ILSAA
IMMIGRATION LEGAL SERVICES FOR AFGHAN ARRIVALS
خدمات حقوق مهاجرت برای افغان‌ها

Contact us:
ILSAAinfo@icf.com

# د افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدمات (ILSAA)

**مونږ د هغه نوي راغلي افغان کډوالو سره چې پر شرایطو برابر وي وړیا مرسته کوو تر څو هغوی هغه خدماتو ته لاسرسی ومومي چې د متحده ایالاتو د مهاجرینو په قانوني سیستم کې خپلې ستونزې ته لاره پیدا کړي.**



**افغان کډوال چې د شرایطو واجد دي:**

- د بشري موقتي اقامې غوښتونکی افغانان
- بې سرپرسته افغان ماشومان
- نور هغه افغانان چې د کډوالو د بیا میشتېدو د ۰۱-۲۲ د تګلارې «ORR Policy Letter 22-01» له مخې د شرایطو واجد وي ، لکه د ځانګړي مهاجرت ویزې لرونکي ، ځانګړي کډوال چې د مشروطه دایمي استوګنې حیثیت لري ، پناه غوښتونکي ، او داسې نور.

هغه افغان چې د موقتي اقامې «پرول» غوښتونکی وي ، دا به ورته ډېر ستونزمنه وي چې د کافي قانوني ملاتړ څخه پرته د متحده ایالاتو د مهاجرینو قانوني سیستم سره مخامخ شي. پدې برخه کې مونږ مرسته کولای شو.

## حقوقي خدماتو ته لاسرسی

- موږ د هغه افغان کډوالو لپاره چې د شرایطو مطابق وي د مهاجرت قانوني مرستې په **وړیا توګه** وړاندې کوو.
- موږ د دایمي اقامې لارښود په هکله ، د کورنیو د بیا یوځای کېدو ، د موقتي محافظت وضعیت (TPS) او داسې نورې ورته مرستې وړاندې کوو.
- موږ لفظي او کتبي ژباړنیز خدمات چې پښتو او دری ژبې هم پکښې شاملې دي تاسو ته وړاندې کوو.
- کله چې موږ د قانوني مرستې لپاره ستاسو درخواست تر لاسه کړی ، موږ به تاسو ستاسو د اړتیاو اړوند د قانوني خدماتو د کارپوه سره معرفي کړو.

## د افغان کډوالو د ښه چوپړ لپاره د ظرفیتونو (کدرونو) روزل

موږ په ټوله متحده ایالاتو کې د قانوني خدماتو د پاره ظرفیتونه روزو ، سرچینې او دوامداره ملاتړ هم چمتو کوو ، تر څو دوی وکولای شي په ښه توګه افغان کډوالو ته اړین خدمات وړاندې کړي.

تاسو کولای شئ چې د «ILSAAinfo@icf.com» بریښنالیک د لارې خپل نوم ، د تلیفون شمېره ، او خپله لومړنۍ ژبه د «ILSAA» د ټیم غړي ته واستوئ او هغه به ستاسو پیغام ته جواب ووایي.

*د مسئولیت رفع: «USCRI» د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو څانګه، د ماشومانو او کورنیو اداره، د # 140 D0423C0027 قرارداد د سیالۍ تمویل له لارې 75 ملیونه ډالر ترلاسه کړي دي. دا پروژه سل په سلو کې د فدرال د مالی صندق له خو حمایه کېږي*

USCRI